هلمندد اطلاعاتواوفرهنګ ریاست

دستروا کمن په سترنامه

# هلمند

اونیزه

۳۵

چهارشنبه

۱۴۴۳هـ ق جمادي الاول ۲۶

۱۴۰۰هـ ل کال دلیندی ۴ مه

دتأسیس کال ۱۳۳۳هـ ل

## د سلطان مسعود قصر په بشپړه توګه د غاصبینو له منګولوڅخه خلاص سو.





نېټه:۱۴۴۳/۴/۲۸هـ ق ــ ۱۴۰۰/۹/۵هـ ل

د هلمند د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا د سلطان مسعود تاریخي قصر چې د تېرو شلو کلنو په جریان کې په غیري قانوني ډول د یو شمېر غاصبینو له خوا غصب سوی او په خپلسري توګه په کې کورونه جوړ سوي وه په بشپړه توګه څلورم مخ ....

## لښکرګاه ښار کې د (۱۰) میلیونه افغانیو په ارزښت یوه ښوونځی جوړېږي.




نېټه : ۱۴۴۳/۸/۲۹ هـ ق – ۱۴۰۰/۹/۱۳ هـ ل

د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه ښار د دوهمي حوزې اړوند په قصبه سیمه کې د یوې متوسطه ښوونځی د پرانیستي مراسم ترسره سوه په دې غونډه کې د پوهني ریاست تدریسي مرستیال مولوي محمد اسماعیل سعادت ، د تعلیم او تربیې څلورم مخ ...

# په تاريخي کلاګانو کي د خپل سريو آباديو مخه ونيول سوه.

دغاصبينو له خوا غصب سوی او په خپلسري توګه په کي کورونه جوړ سوي وه په بشپړه توګه د غاصبينو له شتون څخه پاک او له تخريب څخه يې مخنيوی وسو.نن تر بشپړي تخليې وروسته د (سلطان مسعو قصر) په انګړ کي د اطلاعاتو او فرهنګ ياست مسؤلينو او ليکوالانو لخوا رسنيو ته د ياد (قصر) د تخليه کېدو او ارزښت په اړه معلومات ورکول سوه. د اطلاعاتو او فرهنګ رياست اړوند د تاريخي ابداتو د ساتني مدير مولوي حمدالله (مدثر) رسنيو ته وويل : د دغه تاريخي قصر په انګړ کي دننه شاوخوا (٦٠) کورنۍ موجودي وې، چي په خپلسري توګه يې د دغه قصر ځيني برخي قبضه کړي او د اوسېدو لپاره يې پکي کورونه اباد کړي وه، چي تر ډيرو هلو ځلو وروسته دادی نن په بشپړه توګه ياد قصر دغاصبينو له منګلو څخه خلاص او د بيارغاوني اوساتني لپاره به يې هم ببلا ببل پلانونه په کار واچول سي ترڅو خپلي معنوي شتمنۍ وساتو. نوموړي زياته کړه: د اطلاعاتو او فرهنګ رياست هوډ لري چي د هلمند ولايت اړوند ټول لرغوني او تاريخي اثار د غاصبينو له منګولو خلاص او عاملين يي دشرعي اصولو مطابق دخپل عمل په سزا ورسوي

.همدارنګه ليکوال او تاريخ څېړونکي، محمد اسماعيل (شريعتيار) رسنيو ته د دغه قصر د تاريخي قدامت او ارزښت په اړه معلومات ورکړه، نوموړي وويل : هلمند دهيواد په کچه هغه لرغونی او تاريخي ولايت دی چي د اوږده او ځپانده سيند پر غاړه يې تمدنونه رامنځته سوي او زرګونه کلونه وړاندي دا هغه د برمه ډکه سيمه وه، چي په خپله غېږه کي يې ببلا ببل نوميالي روزلي .

د ده په وينا: هلمند د نورو تمدنونو ترڅنګ په سياسي، علمي او ادبي برخو کي هغه ولايت دی چي په ځينو تاريخونو کي ورته د علم زانګو او د پښتو ادب پلازمېنه ويل سوې.د شريعتيار په خبره: دغه قصر د غزنوي واکمنانو ژمنی ټاټوبی وو، چي دوی به په دوبي په غزني او ژمي کي همدلته اوسېدل او له همدې ځايه به يې د ټول هيواد چاري اداره کولې.

دغه راز ښاغلي شريعتيار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست لخوا د دې نېک او بې ساري اقدام څخه ستاينه او مننه وکړه، همداراز نوموړي د اطلاعاتو او فرهنګ له مسؤلينو وغوښتل چي ټول هغه تاريخي ابدات چي د کورنيو جګړو پرمهال وران سوي او غصب سوي، د هغوی د ژغورني او ساتني په برخه کي جدي پاملرنه وکړي ترڅو زموږ معنوي ارزښتونه د له منځه تلو له ګواښ څخه وژغورل سي. ديادوني وړده چي، هلمند هغه ولايت دی چي د هيواد په کچه د پراخ مساحت ترڅنګ ډيری لرغوني ابدات او تاريخي کلاګاني لري، چي له بده مرغه يې د کورنيو جګړو پر مهال يو شمېر لرغوني او تاريخي کلاګاني له غصب او ورانۍ سره مخ سوي دي، خو له دې جملې څخه يو هم د سلطان مسعود قصر وو، چي د تيرو شلو کلونو په جريان کي د يو شمېر زورواکانو او غاصبينو له خوا په خپلسري توګه غصب او پکښي د استوګني کورونه جوړ سوي وه.

# د ۱۰ ميليونه افغانيو په ارزښت يوه ښوونځی جوړيږي.

د مرکزي حلقې مسؤل محمد عوض (انصاري) او يوشمېر نورو سپين ږيرو او ځوانانو هم برخه درلوده.ياده ښوونځي د قصبې سيمي د اوسېدونکو د غوښتني په اساس جوړيږي . پرهمدې مهال د تعليم او تربيې د مرکزي حلقې مسؤل مولوي محمد عوض (انصاري) د باختر آژانس د خبريال غورځنګ سره د خبرو پرمهال وويل: دا د خوښۍ ځای ده، چي خلک د يوې تعليمي اداري د جوړېدو غوښتنه کوي او زياته يې کړه ،چي اسلامي امارت به هم د عصري او ديني زده کړو په برخه کي د هيواد بچيانو ته بشپړه زمينه برابره کړي . نوموړی وايي هيواد په هره برخه کي لوستو کسانو ته اړتيا لري ،چي په وينا يې که لوستي ځوانان ولرو په راتلونکي کي به مو هيواد زياتي لاسته راوړني ولري.دغه راز د پوهني رياست تدريسي مرستيال مولوي محمد اسماعيل (سعادت) دزده کړو پر ارزښت هر اړخيزي خبري وکړې او زياته يې کړه چي ياده ښوونځي د (۱۰) ميليونه افغانيو په ارزښت جوړيږي چي ۹ درسي ټولګي به ولري .د ده په خبره چي د يادي ښوونځی تر جوړېدو وروسته به ددې ښوونځي زده کوونکو ته کتابونه او قرطاسيه هم ورکول سي. هلمند کي دا مهال (۲۰۰) ښوونځي ودانۍ نه لري او زده کوونکي يې په کرايه کورونو کې زده کړې کوي.

کتن پلاوی :
ګل محمد (غورځنګ) اومحمدهاشم
دامتياز خاوند : داطلاعاتو اوفرهنګ رياست
مسوول مدير: سيدمحمد (حيرت)
داړيکي شمېرې :
(۰۷۰۰۹۰۰۵۵٦)
(۰۷٤۷۰۵۹۹۵٦)
Helmandjareda1333@gmail.com
انځورونه: محمد محسن (عمري)
چاپ: نشنل چاپخانه:
پته : دلښکرګاه ښار

# سرمقاله:

## دځوان نسل په روزنه کي زموږ مسؤليتونه

دا خبره په عمل کي ثابته سوې، دنړۍ هغه ملتونه چې دخپل نوي نسل روزني اوذهن جوړوني ته يې خاصه پاملرنه کړې خوشبختانه اودسوکاله ژوند څخه برخمن سوې ځکه هغوی دخپل زيارپه مټ يوه سالمه ټولنه رامنځ ته کړې مختلف قومونه يې ديوه وضعي قانون تر چترلاندي متحد ژوند کوي اودغه د انسان په لاس جوړسوی اونيمګړی قانون ديومشترك اصل او ارزښت په توګه پېژني. خوبرعکس موږ ولي دخپل نوي نسل په روزنه او ذهنيت جوړونه کي پاته راغلی يو سره له دې چې په افغانستان کي مېشت قومونه الحمد الله ۹۹،۹۹سلنه مسلمانان دي اوخورا لوړ اوسپېڅلي اسلامي اوملي مشترك ارزښتونه اومعيارونه لرو، چې په لنډ ډول يې دلته يادونه کوو.
لومړی :ترټولولوړ معيار زموږ لپاره اسلام دی الله ( ج) په خپل سپيڅلي کلام قرانکريم کي مؤمنانوته حکم کوي: (الحجرات/۱۰ ايت)
ژباړه: بېشکه ټول مؤمنان په دين کي سره وروڼه دي، نودخپلووروڼوترمنځ مناسبات سم کړئ اودالله (ج) څخه ووېرېږئ ترڅودالله (ج) درحمت څخه برخمن سي. نو دهمدې لوړ او سپېڅلي معيار په اساس زموږ دټولني هرمخور کس که؛ هغه ديني عالم دی، معلم، ليکوال دی، دمدرسې يا مکتب ښوونکی دی او که دکورنۍ مشردی ټول مسؤليت لرو، چې خپل ځوان نسل دقرانکريم په رڼاکي وروزو او هغه په بشپړه توګه په الهی(ج) ارشاداتوباندي وپوهوو او دخپلو کشرانو دظاهري اوباطني اصلاح لپاره په منظم ډول کار وکړو . دوهم : داچي موږ الحمدالله ديوه داسي ستر پيغمبر( ص) امتيان يو، چي هفه دټول بشريت لپاره يو بې مثاله لارښود دی اوموږ ته يې د دنيوي او ابدي ژوند لپاره داسي روښانه تګلاره ټاکلې ده، چې په هغه کي دهرچا فردي اوټولنيزحقوق او مسؤليتونه واضيح سوي، نو داهم زموږ مسؤليت دی چې دخپلو اولادونو اوکشرانو ذهنونه داسي اصلاح کړو، چې هغوی خپل صورت اوسيرت دقرانکريم اونبوي ارشاداتو مطابق جوړ کړي. دريم :معيار زموږ لپاره افغانيت دی، دې ټکي ته هم بايد متوجه واوسو، چې موږ ټول افغانان يو اوټول بايد ديوه واحد ملت په توګه يو له بل سره د ورورۍ په فضاکي ژوند وکړو ، ټو ل په ګډه دخپل هيواد دابادۍ پرمختګ او سرلوړۍ لپاره کاروکړو ځکه؛ ملي ارزښتونه مو مشترك دي، پدې
برخه کي هم مکلف يو، چې نوی نسل دوطن پالني په روحيه وروزو او داسلامي اوملي ارزښتتونو په اړه عامه پوهاوی ورکړو.

## د جګړو له امله ۸۰ تخريب سوي ترانسفرمرونه ترميم او نصب سوي.

نېټه : ۱۴۴۳/۵/۴ هـ ق – ۱۴۰۰/۹/۱۷ هـ ل

څه باندي څلور مياشتي وړاندي لښکرګاه ښار کي دسختو جګړو له امله د نورو زيانونو تر څنګ د برښنا برخي ته هم زياته صدمه رسېدلي وه . د هلمند ولايت د برښنا رئيس مولوي عبدالاحد (ايوب) د تېرو دريو مياشتو د فعاليتونو راپور د باختر آژانس خبريال سره شريک کړ.نوموړي وويل : د اسلامي امارت په راتګ سره په تېرو درېيو مياشتو کي د هلمند ولايت د برښنا رياست لخوا (۸۰ ) هغه مختلف الظرفيته ترانسفرمران چي د تېرو جګړ پرمهال زيانمن سوي وه ترميم کړي او خپلو اړوند سيمو ته يې تر انتقال وروسته بيا فعاله کړي.هغه همدغه راز زياته کړه، د لښکرګاه ښار په مختلفو سيمو کي (۲۴۵) پايې او د مېترانو صندقونه چي د جګړې پر مهال تخريب سوي وه دوباره ترميم او نصب کړي چي په وينا يې د لښکرګاه ښار او دوراهي پوري ( ۴۴ ) کيلومتره او له دوراهي تر سنګين والسوالی پوري( ۱۱۰) کيلومتره لين د( ۲۰ ) ورځو په موده کي ترميم او تمديد سوي.

نوموړی وايي: د مرکز او ولسواليو دبرښنا د ټولو مشتريانو ستونزو ته يې پر وخت رسيدګي کړې او تر څنګ يې د هغه کسانو مخه هم نيولې ده، چي په غيري قانوني توګه يې برښنا استعمالول.

پر ورته وخت د هلمند ولايت د برېښنا رياست د تفتيش مدير حاجي شيراغا معروفي د باختر آژانس ته وويل: د ښار په ټولو سيمو کي د ياد مديريت لخوا د تفتيش چاري په چټکۍ سره رواني دي او ټول هغه ترانسفرمرونه او ميټرونه چي د تېرو جګړو له امله تخريب سوي د ترميم چاري يې پر مخ وړي.

نوموړي د مشتريانو غوښتنه وکړه، چي د برېښنا له بې ځايه مصرف څخه ډډه وکړي او د دې ترڅنګ خپل بيلونه پر وخت تحويل کړي .د ده په خبره چي د ګرشك ولسوالۍ د برېښنا بند (۲۲ ) ميګاواټه برېښنا توليده وي او په منظمه توګه ديادي ولسوالۍ اوسېدنکو ته برېښنا ورکول کيږي .د يادوني وړه ده ، چي هلمند ولايت څه باندي (۲۵۰۰۰) د برېښنا مشتريان لري، خو د برېښنا رياست مسؤلين غوښتنه کوي چي مشتريان بايد برښناپه اصولي توګه مصرف او خپل بيلونه پر وخت تحويل کړي.

# د تکړه شاعر او نعتخوان مولوی عبدالغفار (مجروحی) سره مرکه

۱- پوښتنه : که د هلمند جريدې لوستونکو ته ځان ور وپېژنئ؟

ځواب : په پيل که د هلمند جريدې لوستونکو ته خپل سلامونه وړاندي کوم . زه مولوي عبالغفار (مجروحي) يم او د هلمند ولايت د مرکز لښکرگاه د شرقي لښکري بازار د سيمي

۲ – پوښتنه : که دا راته ووایاست چي چيري زيږيدلي ياست او فعلا چيري اوسيږئ؟

ځواب: مخکي مي هم درته وويل ، زه د لښکرگاه ښار اړوند شرقي لښکري بازار سيمه کي زيږدلی يم او فعلا هم دلته اوسيږم.

۳ – پوښتنه : زده کړې مو څومره کړې دي؟

ځواب: زده کړي مي ديني زده کړي کړي دي تر لوي دورې پوري مو بشپړي کړي دي.

۴ – پوښتنه : د ديني زده کړو تر څنګ مو عصري زده کړي هم کړي دي؟

ځواب: زما پلار خپله لوی عالم ؤ، ابتدايي زده کړې مي د خپل پلار څخه کړې، وروسته مي د لوي دورې زده کړې پر نورو لوی عالمانو کړې او پای ته مي رسولي دي؛خو تر اتم ټولگي پوري مي عصري زده کړې هم کړي دي.

۵ – پوښتنه : کله چي دي زده کړې کولي اقتصادي وضيعت دي څنګه ؤ او د کومو ستونزو سره مخ واست؟

ځواب: د افغانستان د زياتو وگړو اقتصاد کمزوری دی او زما په گډون هره یوه په سختو اقتصادي ستونزو کي زده کړي کړي دي.

۶ – پوښتنه : تاسي شعر او شاعري هم کوئ ، څومره کلونه کيږي چي شاعري کوئ؟

ځواب: زه د تيرو شاوخوا ۲۰ کلونو راهيسي شعر او شاعري کوم

۷ – پوښتنه : څه علت ؤ، چي شاعرۍ ته دي مخه کړه؟

ځواب: دافغانستان يو کړېدلی او غمځپلی هيواد دی ، څو ځله د کافرانو لخوا اشغال سوی ، نو د وطن درد او حالاتو دي ته اړکړم، چي زه شاعري وکړم او د خپل خلکو درد په شعر کي را واخلم ، نو زما د شاعرۍ علت هم د وطن درد او د سپيڅلو شهيدانو ارمان دی.

۸ – پوښتنه : په کومه برخه کې دي زياته شاعري کړې ده ،مثلا

۸ – پوښتنه : په کومه برخه کې دي زياته شاعري کړې ده ،مثلا
نعتونه ،حمدونه او که غزل شعرونه دي ليکلي دي؟

ځواب : ما په هره برخه کې شاعري کړې ده ؛خو زيات مي حمدونه ،نعتونه او ترانې ليکلي دي .

۹ – پوښتنه : تر دې مهاله دي څومره شعرونه ليکلي دي ؟

ځواب: مخکي مي درته وويل ؛چي زه د شاوخوا ۲۰ کلونو راهيسي شعرونه ليکم ،شعرونه مي ډېر ليکلي دي که د اټکل له مخي درته ووايم تر ۳۰۰ پوري مي شعرونه ليکلی دي.

۱۰ پوښتنه : مجروحي صاحب تاسو نعت خوان هم ياست خپل نعتونه واياست او که د نورو شاعرانو ده هم واياست؟

ځواب: بلی؛ زه نعت خوان يم او نعتونه وايم،زيات خپل شعرونه وايم ؛خو ځني وختونه د نورو شاعرانو شعرونه هم وايم.

۱۱ پوښتنه : که دا راته ووايي ،څومره کلونه کيږي چي نعت خوان ياست؟

ځواب: زه شاعري د ۲۰ کلونو راهيسي کوم او نعتونه هم د شاعرۍ د پيل سره جوخت مي شروع کړي دي او وايم يې.

۱۲ پوښتنه : مجروحي صاحب ستاسو يو شعر که د هلمند جريدې د لوستونکو سره شريک کړئ؟

وړونو احتياط په ورځو شپو کــــــــوئ
پام د قيامـــــــت په علامو کـــــوئ

تېر وختـــــــــــونه بيا و موږ ته نه راځي
عــــــــمل د قرآن په آياتو کـــــوئ

سترگي خدای (ج) درکـــړي حق پرې نه وينئ
خپل د کــــــــــور کارولي په پردو کوئ

ښايي تاسي وغــــــــــواړئ بيا نه وي دا
سترې ژوند د ځان په گناهو کـــــــوئ

اوس لا د توبې دروازې خلاصـــــــي دي
تل رب (ج)ته ژړاوي په سلگـــــــو کوئ

گـــــوره (مجروحي) د رب (ج) رضا غواړي
خيال د جنتو او دوزخــــــــــــو کوئ

مرکه کوونکی : گل محمد ( غورځنګ )